# رغونه

## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه


د محرم ۹ مه، ۱٤٤۷ هـ.ق کال
چنګاښ/سرطان ۱۴مه، ۱۴۰۴ هـ.ش

لومړی کال، پرله پسې ۲۰ مه ګڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


### په دې ګڼه کې لولئ:


- زابل: د قلات ښار تول نجاران ځای پر ځای او ځانګړي مارکېټ ته انتقال شول
- غزني: غزني ښار په خواجه علي صاحب سرک کې شاوخوا ٦٥ بې نظمه هټۍ مهرلاک شوې
- غزني: غزني ښار د بزازۍ بازار د لاسي کراچیو تنظیم د ښاري نظم پر لور یو اغېزناک ګام
- هرات: کار پروژهٔ اعمار چهار منزل تعمیر خانهٔ فرهنگ در شهر هرات آغاز گردید
- کندهار: کندهار ښار په ۱۵ ناحیه کې د حاجي عرب عمومي کوڅې رغنیزې چارې په دوه فازه کې جریان لري
- هرات: پروژه آسفالت جاده عمومی فاز دوم الی اخیر فازسوم شهرک صنعتی ولایت هرات افتتاح گردید
- غزني: غزني ښار کې د ۲۴ میلیونه افغانیو په ارزښت درې پروژې پرانیستل شوې
- سرپل: پروژه اعمار تحویلخانه در محوطه ریاست شاروالی شهر سرپل ۹۵٪ تکمیل شده است
- مزار شریف: کار طبقه اساسی یا بیس کورس پنج سرک در شهر مزارشریف آغاز گردید
- مزار شریف: ساخت و نصب نماد های زیبایی در گلدان های اطراف چهارراهی شاروالی مزارشریف تکمیل گردید
- بامیان: سرک شهرک گنبدک بامیان کندنکاری و هموارکاری شد
- خوست: خوست ښار کې د هوټلونو او هټیو څارنه او د ښاري نظم په برخه کې اجراات ترسره شول


### کار ساخت و ساز فواره آب در وسط چهارراهی کمال نبی زاده ۷۰٪ فیصد به پیش رفته است




### د هرات ځلورمه ناحیه کې د ۵ میلیون افغانیو په ارزښت د ترقي پارک لویدیځې غاړې ته د کانال جوړولو پروژه افتتاح او چارې یې پیل شوې




### ګرشک ولسوالۍ کې یو شمیر امارتي ځمکې د غصب څخه پاکې شوې



## د محمودراقي ښاروالی له خوا شکايتونو ته د رسيدنې کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه




د شــکایتونو د رســیدنې کمېټې نوبتي غونډه، د ښاريانو د ستونزو او شــکایتونو د حل په موخه، د محمودراقي ښاروال مولوي عبيدالله حسام په مشرۍ او د کمېټې د غړو په ګډون، په محمودراقي ښاروالۍ کې ترسره شوه.

په دغه غونډه کې ښـــاروال مولوي عبيدالله حســـام وويل: د ښاريانو شــکايت د عدالت غږ دی او زموږ شرعي او وجداني دنده ده چې ورته غوږ ونيســـو او رســـيدنه ورته وکړو. د قانون پلي کول، د نظم ټينګښـــت او د ســـتونزو حل زموږ اساسي مســـؤوليت دی. موږ باور لرو چې د اخلاص خدمت د الله ج رضايت سبب ګرځي.

همدارار په دې غونډه کې د ښـــار لـــه درې ګونو ناحيو څخه ترلاسه شوي شـــکایتونه په دقت سره وڅېړل شول او پرېکړه وشوه چې يادو موارد و ته به د قانون او اصولو مطابق په جدي توګه رسيدنه وشي.

## د غزني ښـــاروال له اړوندو مســـؤولينو سره د فلزي موانعو له نصب څخه ليدنه وکړه




د غزني ښاروال مولوي محمدنبي حمزه د ښار د ښکلا نظم او امنيتـــي تدابيرو د پياوړتيا په موخـــه د فلزي موانعو له نصب څخه ليدنه وکړه.

په دې ليدنه کې ورسره د څارنې او ارزونې امر مولوي محمود مقيم چې د ياد رياســـت اداري او مالي امر مولوي عبدالغفور سحر يې هم ملتيا کوله.

نوموړو د ښـــار په بېلابېلو سړکونو او سيمو کې د فلزي موانعو د ځای پر ځای کولو څرنګوالی وارزوه او له اړوندو مسؤولينو سره يې د نصب د څرنګوالي او لا ښه تنظيم په اړه لازمي مشورې وکړې.

ښاغلي ښاروال وويل فلزي موانع به نه يوازې د ښار منظم تګ راتګ ته ســـهولت رامنځته کړي بلکې د غيرمجاز پارکينګ د پلي لارو بنديدو او بې‌نظمۍ مخه هم ونيسي.

همدارار يـــادې موانع د باردارو (درنـــو) موټرو د تګ راتګ د مخنيوي په موخه هم ځای پر ځای کېږي څو د ښـــار اصلي سړکونه او پلي لارې خوندي پاتې شي.

د يادونې وړ ده چې د غزني ښاروالی رياست د ښاري نظم د تأمين سړکونو د پاکو ســـاتلو او د ترافيکي بهير د اسانتيا په هدف دا ډول موانع نصبوي.

## د قلات ښـــار تول نجاران ځای پر ځای او ځانګړي مارکېټ ته انتقال شول




د ښـــاري صنف بنديو په لړ کې د قلات ښاروالی له لوري څه موده وړاندې د نجارانو لپاره نوی مارکېټ وټاکل شو چې اوس تازه د نجارانو د انتقال چارې بشپړې شوې چې په نتيجه کې يې ورسره د پخوانی ســـاحې دَ ښـــاري بې نظمۍ ستونزه په بشپړ ډول حل شوه.

قلات ښاروالي هڅه کوي تر څو د صنف بندۍ په برخه کې لا هم خپلـــو کړنو ته ادامه ورکړي او د ښـــار بيلابيلو اصنافو ته مشـــخص مارکېټونه وټاکي څو يو خوا ورسره ښاري پراختيا، ښاري ښکلا پيدا کړي او بل لور ته ښاريانو ته د کارونو زمينه مســـاعده کړي او همـــداراز د کرايو ټيټـــوالي او د نرخونو په کنټرول کې مثبت بدلون راولي.

## غزني ښـــار په خواجه علي صاحب سړک کې شاوخوا ٦٥ بې‌نظمه هټۍ مهرلاک شوې




د غزني ښـــاروالۍ د لومړۍ ناحيې مديريت د ښاري نظم د ټينګښت په موخه د خواجه علی صاحب سړک باندې شاوخوا ٦٥ هټۍ مهرلاک او وتړلې.

د يـــادې ناحيې مدير ډاکتر ســـميع‌الله صميم وايي په دغه ســـړک کې ګڼ شـــمېر شـــيريخ پلورونکو کلچه پزانو او نورو سرغړوونکو هټيوالو د پل‌لارې بندې کړې وې.

له څو ځل خبرتيا وروســـته نن پرې عملي اقدام وشو او هټۍ مهرلاک شوې.

نومـــوړي زياته کړه هغـــه هټۍ هم وتړل شـــوې چې د هټيو پيکونه پلو لارو او عامه ځايونو ته را ايستلي و.

د غزني ښاروالی رياست له ټولو ښاريانو غوښتنه کوي چې د ښاري نظم رعايت وکړي او د قانون مطابق فعاليت وکړي څو زموږ ښار پاک منظم او د اوسېدنې لپاره مناسب وي.

## غزني ښار د بزازۍ بازار د لاسي کراچيو تنظيم د ښاري نظم پر لور يو اغېزناک ګام




د غزني ښاروالی رياست د لومړۍ ناحيې اړوند د بزازۍ بازار کې د لاسي کراچيو تنظيم يو مهم او اغېزناک اقدام ترسره شوی.

چې هم د ښـــار ښـــکلا ته ځانګړې ښه ورکوي او هم د نظم د ټينګښت لپاره يو بنسټيز قدم بلل کېږي.

د دې نوبښت په ترڅ کې ټولې لاسي کراچۍ په منظم ډول ثبت، تنظيم او يوشان شوي دي.

د کراچيو لپاره ځانګړی يو رنګ غوره شوی چې دا چاره د ښار د منظرسازۍ سره همغږې ده.

سربېره پر دې پر هره کراچۍ د غزني ښاروالی نوم ليکل شوی او موقتي شـــمېرې ورکړل شوې ترڅو د کراچۍ لرونکو د پېژندنې اسانتيا رامنځته شي.

دا سيستم به ښاروالۍ ته دا زمينه برابر کړي چې په راتلونکې کې وکولای شي د کراچيو عوايد له شـــفافې لارې راټول کړي د ښار نظم ته دوام ورکړي او غيرمجاز کراچۍ له منځه يوسي.

دغه اقدام نه يوازې د عوايدو د تنظيم له پلوه مهم دی بلکې د عامو خلکو د تګ راتګ لپاره هم پراخه اسانتياوې رامنځته کوي څکه مخکې به بې‌نظمه کراچۍ د پياده‌رو لارو او سړکونو مخه نيوله.

د دې ارزښـــتناکه کار مشري د غزني ښاروالی د لومړۍ ناحيې عمومي مدير ښاغلي سميع الله صميم کړې ده.

نوموړي د خپل ټيم سره په همغږۍ د بازار هر اړخيز ارزونه کړې او د لاسي کراچيو درلودونکي يې قانع کړي چې د ښار د نظم او پرمختګ لپاره همکاري وکړي.

دا ښيي چې د ښاروالۍ اړوند مسؤولين د ښاري ستونزو حل ته ژمن دي او د خلکو د هوساينې لپاره عملي ګامونه پورته کوي.

خلک هم د دې نوښـــت هرکلی کړی او تمـــه لري چې دا ډول منظم سيستم د ښار نورو برخو ته هم وغځول شي. څو يو منظم پاک او د ژوند وړ چاپېريال رامنځته شي.

کار پروژه کانکریت ریزی سرک لیسه ستاره درناحیه چهارم شهر میمنه ولایت فاریاب به هزینه ۹ اعشاریه پنج میلیون افغانی از عواید داخلی این اداره به سرعت جریان دارد.

فارياب ٦

## غزني ښار د څلورمې ناحیې مدیر له شنو ساحو لیدنه وکړه



غزني ۷

د غزني ښاروالۍ د څلورمې ناحیې عمومي مدیر رحمت الله منصور د خپلې ناحیې اړوند له شنو سیمو او تفریحي ځایونو څخه لیدنه وکړه.

د یادې لیدنې موخه د شنو سیمو وضعیت ارزول د پاکوالي پر څرنګوالي څارنه او د ښاري سرسبزۍ د لا پراختیا لپاره لازمې طرحې سنجول وو.

ښاغلي منصور د لیدنې پرمهال د زرغونتیا لـه کارکونکو وغوښتل څو د ښــار زرغونتیا ته لا زیاته پاملرنه وشي او شته شنې سیمې په دوامداره توګه وڅارل شي.

نوموړي ټینګار وکړ چې ښــاري شــتمنۍ، په ځانګړې ډول شنې ساحې، د عامو وګړو ګډ ملکیت دی او باید د ټولو لهخوا پرې ساتنه وشي.

غزني ښــاروالۍ ژمنه لري چې د ښاري چاپېریال د ښایسته کولو سرسبزۍ پراخولو او د تفریح فرصتونو د زیاتوالي په برخه کې به خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

## لښــکرګاه ښاروالۍ کې د مشــورتي بورډ پنځه لس ورځنۍ غونډه ترسره شوه




هلمند ۸


د هلمند ولایت مرکز لښــکرګاه ښــاروالۍ د مشورتي بورډ د غونډو په تالار کې د ښــاروال او مشــورتي بورډ رئیس حافظ صدیق په مشرۍ د مشورتي بورډ پنځه لس ورځنۍ غونډه تر سره شوه.

په غونډه کې د ښاروال ترڅنګ د ښاري حکومتولۍ امر او د مشــورتي بورډ غړو برخه اخیستې وه. پیل کې ښاروال حافظ صدیق د غونډې ګډونوالو ته د ښــه راغلاست تر څنګ وویل: چې ستاسو له لوري د وړاندیز کړل شویو یو شمیر پروژو چارې به ان شاء الله ډیر ژر پیل شي او د ښار په بېلابېلو ناحیو کې به پلي شي.

نوموړي زیاته کړه چې تاسو د خپلو اړوندو سیمو د اوسیدنکو څخه د صفائي د محصول پر وخت تحویلولو غوښــتنه وکړئ ترڅو د پراختیایي پلان مطابق پروژې پر وخت پیل شي او په ښار کې خدمات تر سره شي.

د مشورتي بورډ اړوند کمېټو خپل د کړنو راپور د مشورتي بورډ رئیس ته وړاندې کړ او پــه هره برخه کې یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکو له لوري د کلچه پزۍ مخې ته د ویالو راویستل شوي کثافات انتقال او دفن شول



لغمان ۹

د مهترلام ښــار د پاک چاپېریال د تامین او د ښــاري نظم د ټینګښــت په موخه، د ښاروالۍ د تنظیف مدیریت کارکوونکو له لوري د ښار د لومړۍ ناحیې اړوند د کلچه پزۍ مخې ویالې پاکې شوې.

په دې پاک کارۍ کې، د ویالې له منځ څخه ټول راټول شوي خځلې، ختې او نور کثافات راټــول او یو لرې، له چاپېریالي پلوه مناسب ځای ته انتقال او د اصولو مطابق دفن شول.

دغــه چاره د چاپېریال د ککړتیا د مخنیوي او د اوبو د بهیر د عادي کولو په موخه ترسره شو.

د مهترلام ښــاروالۍ مشرتابه د ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکو څخه مننه کوي او له ښاریانو غواړي چې د پاک ښار په ساتلو کې له ښاروالۍ سره همکاري وکړي.

## ترینکوټ ښــار څخه د کثافاتو  خپریدو د مخنیوي په موخه نظارت تر سره شو



اروزګان ۱۰

د ترینکوټ  ښاروالۍ ریاست  د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت له لوري د ښــار یو شــمېر برخو څخه د کثافاتو د کنټرول او تنظیفاتي چارو د ښــه ترسراوۍ په موخه نظارت تر سره شوو . چې له مخې یې د ښار په بېلابېلو برخو کې د سرکونو  جارو، ښــاري ویالې پاکول، کثافاتو راټولول او  د کثافاتو د انتقال چارې په منظم ډول تر سره شوې.

د یاد ریاســت د تنظیف او سرسبزۍ مدیر وایي، د نن ورځې په جریان کې یې د ښار د یو شمیر  ناحیو د جارو کولو چارې ترسره کړې، هغه ویالې او پلچکونه چې د کثافاتو له کبله بند شوي وه خلاص او راټول شوي کثافات یې خوندي ځای ته انتقال کړل.

د نوموړي په خبره ؛ د یادو چارو ترڅنګ عامو هېوادوالو ته په ښــار کې د کثافاتو کنټرول او د کثافاتو د خپریدو د مخنیوي په موخه عامه پوهاوي وړاندې او په اړوند برخه کې ورته لازمې سپارښتنې وشوې.

د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشید "هدایت الله" له ټولو درنو ښاریانو څخه د کثافاتو د خپریدو د مخنیوي په موخه د همکارۍ غوښتنه کوي چې د بې ځایه کثافاتو غورځولو څخه ډډه وکړي او د کثافاتو په کنټرول کې د ترینکوټ ښاروالۍ د تنظیف ټیمونو سره همکاري وکړي ؛ کثافات ټاکل شویو ځایونو ته انتقال کړي او په ګډه د یو پاک او سالم ښاري چاپېریال په رامنځته کولو کې د یاد ریاست سره پوره ونډه واخلي.

## د هرات څلورمه ناحیه کې د ۵ میلیون افغانیو په ارزښــت د ترقــي پارک لویدیځې غاړې تــه د کانال جوړولو پروژه افتتاح او چارې یې پیل شوې



هرات ۱۱

د هرات ښـــاروالۍ د څلورمـــې ناحیې اړونـــد د ترقي پارک لویدیځې غاړې ته د کانال جوړولو پروژې چارې د ۷۴۵ مترو په اوږدوالي د هرات ښــاروالۍ پرمختیایي بودیجې څخه د ۵ میلیونه افغانیو په لګښــت د هرات ښــاروال ملا نعمت الله حســن د تخنیکي او مســلکي ریاست رئیس، د څارنې او ارزونې امر، د څلورمې ناحیې امر، د ګذر وکیلانو، د شوراګانو رئیســانو او د ســیمې یو شمېر اوســیدونکو په شتون کې د استوار سازانو ساختماني شرکت له لوري افتتاح او اجرائیوي چارې یې پیل شوې.

د هرات ښــاروال د دغې پروژې په مراســمو کې د پروژې پر کیفیــت او معیاري چارو ټینګار وکــړ او له مربوطه قراردادي شرکت څخه یې وغوښــتل، ترڅو د پروژې اجرائیوي چارې د شرطپاڼې او قرارداد د موادو سره ســم په معیاري او استنډرډ ډول په خپل ټاکلي مهال بشپړ کړي.

د قراردادي شرکت مســؤولینو د پروژې د کار د کیفیت په اړه ډاډ ورکــوي او وایي، چې د پروژې چــارې به د شرطپاڼې او قرارداد د موادو سره سم په خپل ټاکلي موده کې بشپړوي.

د یادې پروژې په بشــپړیدو سره به یې چاپېریالي ستونزې د کورنو او موسمي اوبو د مدیریت په برخه کې هواري شي.

د یادونــې وړ ده، چــې ټاکل شــوې د دغې پــروژې چارې د قراردادي شرکت له لوري د ۳ تقویمي میاشــتو په موده کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

به منظور جلوگیری از تخریب سرک های شهری و فراهم سازی تسهیلات به شهروندان سرک های کوتل شهر و کوتل دارالعلوم واقع گذرهای اول و سوم ناحیه دوم شهر بامیان توسط شاروالی بامیان گریدرکاری، آب پاشی و هموار کاری گردید.

بامیان ۱۲

# د ولایاتـــو او ولســـوالیو ښـــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## کار پروژهٔ اعمار چهار منزل تعمیر خانهٔ فرهنگ در شـــهر هرات آغاز گردید



هرات ۱۳

کار پروژهٔ اعمار اسکلت چهار منزل از ۷ طبقهٔ تعمیر خانهٔ فرهنگ واقع تانک مرکز، مربوط ناحیهٔ ششم شهر هرات، به هزینهٔ حدود ۲۶ میلیون افغانی از وجوه ذخیروی شـــاروالی هرات، توسط ملا نعمت‌الله حسن‌صاحب، شاروال این شهر و رئیس تخنیکی و مســـلکی، آمر ناحیهٔ ششـــم، آمر نظارت و ارزیابی شـــاروالی، بزرگان، وکلای گذر، رؤســـای شوراهای محل و باشندگان ناحیهٔ مربوطه، افتتاح و آغاز گردید.

بـــه گفتهٔ مســـئولان، شرکت قراردادی (ســـاختمانی صفی غنی)، این پروژه را مطابق مندرجات شرطنامه و مواد قرارداد طی پنج ماه با تمام مراحل آن با رعایت معیارهای تخنیکی و حفظ کیفیت اعمار می نماید.

## جلسه بورد مشـــورتی شـــاروالی محمد آغه ولایت لوگر برگزار شد

جلسه نوبتی بورد مشورتی شـــاروالی محمد آغه ولایت لوگر به رهبری نصیر احمد جبیر، شاروال محمد آغه در حضور اعضای بورد مشورتی و کارمندان شاروالی محمد آغه در تالار جلسات این اداره برگزار کردید.

شـــاروال محمد آغه در مورد فعالیت های شـــاروالی در بازار ها صحبت نمود و بعد از آن اعضای بورد مشـــورتی هر یک بـــه نوبه خود فعالیت ها و مشـــکلات بازار را با مســـؤولین ایـــن اداره شریک ســـاختند و در مورد حل منازات و مشـــکلات که در بازار هـــا وجود دارد تصامیم لازم اتخاذ نمودند.

لوګر ۱۴

## د جلال اباد ښـــار دوهمې ناحیې څخه د کثافاتو انتقال چارې ترسره شوې

د جلال اباد ښـــاروالۍ د تنظیفـــاتي خدماتو په دوام د تنظیف او سرســـبزۍ امریت له لوري د ښـــار دوهمې ناحیې څخه د راټول شوو کثافاتو د انتقال چارې ترسره شوې.

د تنظیف او سرسبزۍ امریت په چوکاټ کې هره ورځ د ښـــار له نهه ګونو ناحیو څخه په اوســـط ډول ۶۵۰ متر مکعب کثافات مناسبو ځایونو ته انتقالیږي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبرۍ له ټاسو درنو ښاریانو څخه غوښـــتنه کوي چې د ښار په پاکوالي کې د ښاروالۍ له کارکوونکو سره بشپړه همکاري وکړي.

جلال اباد ۱۵

## کار بستر سازی پروژه کانکریت ریزی سرک اتصالی بی بی آینه در ناحیه سوم شهر میمنه ولایت فاریاب به هزینه ۹ میلیون هشتصدو ۳۰ هزار افغانی از بودجه انکشافی این شاروالی آغاز گردیده و به سرعت جریان دارد.

فاریاب ۱۶

## کندهار ښـــار په ۱۵ ناحیه کې د حاجـــي عرب عمومي کوڅې رغنيزې چارې په دوه فازه کې جریان لري



کندهار ۱۷

کندهار ښاروالۍ د خپلو پراخو انکشافي فعالیتونو په دوام، د پنځلسمې ناحیې د پنځم ګذر اړوند د حاجي عرب په سیمه کې د عمومي کوڅې ترڅنګ د یوې فرعي کوڅې د اساسي رغولو چارې پیل کړي دي.

د یادې کوڅې لومړی فاز ۶۳۸ متره اوږدوالی لري او ســـاحو ته په کـــټو سره مختلف پلنوالی لـــري. د دغو کوڅو رغنيزې چارې شاوخوا یوه نیمه میاشت مخکې پیل شوي دي او پاتې کارونه به یې د دریو میاشتو په موده کې بشپړې شي.

په دې انکشـــافي پروژه کې هره ورځ ۶۶ کسانو ته د کار کولو زمینه برابره شوې ده.

د یادو کوڅو په رغولو سره د سیمې خلکو زیاته خوښي ښودېده او د کندهار ښاروالۍ څخه یې ځانګړې مننه وکړه.

## کندهار ښـــار کې د زرغونتیا او سرســـبزۍ چارې د یو منظم پلان له مخې جریان لري

د کندهار ښـــاروالۍ اړوند د سرسبزۍ امریت له لوري د خپل منظم پلان پر بنسټ د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د زینتي ګلانو او ایښودل شویو نیالګیو د اوبو کولو چارې په دوامداره او منظم ډول جریان لري.

د ښـــاري ښـــکلا او زرغونتیا د ودې په موخه هره ورځ د نیالګیو، ګلدانونو او زینتي ګلانـــو د اوبو کولو او پالنې چارې په منظم ډول ترسره کیږي.

د یادونې وړ ده چې د یاد امریـــت له خوا هڅې روانې دي، څو د میدان هوایي جادې په ګلدان کې د نیالګیو او ګلانو لپاره هم د قطره يي اوبو سیستم په معیاري ډول جوړ او فعال شي.

کندهار ۱۸

## پروژه آســـفالت جاده عمومی فاز دوم الی اخیر فازسوم شهرک صنعتی ولایت هرات افتتاح گردید





هرات ۱۹

مراسم به مناسبت افتتاح پروژه آسفالت جاده عمومی فاز دوم الی اخیر فازسوم شهرک صنعتی توسط شاروالی گذره ولایت هرات بـــا همکاری مالی صنعت کاران شـــهرک صنعتی این ولایت برگزار گردید.

این محفل امروز شـــنبه (دوم محرم الحـــرام/ هفتم سرطان) برگزار شـــد که در آن شـــیخ نورالدین احمداسلام جار والی ولایت هرات، مفتی جمال الدین مسرور فیضی شاروال گذره ، امین رئیس اتاق صنایع و معادن ولایت هرات، و عده ای از مسـؤلین ادارات دولتـــی و خصوصـــی ایـــن ولایت حضور داشتند.

قرار است پروژه آســـفالت جاده عمومی فاز دوم الی اخیر فاز سوم شهرک صنعتی ولایت هرات بطول ۲۸۵۰ متر و به عرض ۹ متر با هزینه بیش از ۵ مبلغ (۵۰۹۹۶۸۱۰ ) پنجاه میلیون نه صد ونود شش هزار و هشتصدو ده افغانی از عواید داخلی شاروالی گذره و صنعت کاران این ولایت بطور مشارکتی طی ۶ ماه ساخته شود.

## د موټرونو د ازدحام او د ترافیکو پرمخ د لارې د خلاصون په موخه د ګرشک ښـــار د عمومي ښهرا دواړو طرفونو د ښاري اصولو سره سم تخلیه شول




هلمند ۲۰

د ګرشـــک ولسوالۍ د ښـــاري نظم کمیسیون چې د ګرشک ولســـوالۍ د مختلفـــو اداراتو لکه: ولســـوالي، ښـــاروالي، امربالمعـــروف، قومنـــداني، اســـتخبارات او ترافیکو څخه تشکیل دی د ګرشک ولسوالۍ د عمومي ښهرا د تخلیه کولو په برخه کې عملي اقدام ترسره کړ.

چې په نتیجه کې یې هغه ریړۍ، تختونه، جګۍ او کوکه جات چې د ښـــاروالۍ د اصولو خلاف په خود سرانه ډول د عمومي ښـــهرا په حدودو او ګلدانونو کې ایښودل شوي وې او د لوېې لارې د بندیدلو او عام ولس د اذیت سبب ګرځیدلي و ټول د عمومي ښهرا څخه ټول او یو مناسب ځای ته به انتقال شي.

او همدارنګه ټولو ته هدایت وشـــو چې په اینده کې د داسې کړنو د تـــرسره کولو څخه ډډه وکـــړي او د سرغړونکو سره به قانوني چلند وشي.

## رنگمالی کتارهای فلزی چهارراهی سانچارکی در شهر مزارشریف آغاز گردید




کار رنگمالی کتارهای فلزی چهارراهی سانچارکی در ساحات ناحیه سوم و ششم شهر مزارشریف به هدف تغییر مثبت در چهره و سیمای شهر مزارشریف آغاز گردید.

پروژه بازسازی چهارراهی سانچارکی شامل ساخت و نصب کتاره های فلزی، سرسبزی، غرس گل های زینتی، نصب چراغ های تنویر، سنگ کاری پیاده روها، اعمار فواره های آب و رنگمالی می‌باشد که توسط شاروالی مزارشریف به همکاری شرکت خصوصی بازسازی می‌گردد.

با تکمیل پروژه بازسازی چهارراهی سانچارکی زیبائی و نمائی خاص در ساحه مذکور ایجاد خواهد گردید.

## پروژه اعمار تحویل‌خانه در محوطه ریاست شاروالی شهر سرپل ۹۵٪ تکمیل شده است




پروژه اعمار تحویل‌خانه در محوطه ریاست شاروالی شهر سرپل به ارزش مجموعی یک میلیون و یکصد و دو هزار و پنجصد افغانی از بودجه انکشافی شاروالی شهر سرپل تمویل و طی مراحل گردیده است.

هدف از تطبیق این پروژه فراهم‌سازی فضای مناسب و معیاری جهت نگهداری، تنظیم و حفاظت وسایل و تجهیزات مورد نیاز ادارات داخلی شاروالی می‌باشد.

کار عملی پروژه مطابق پلان تخنیکی و جدول زمانی تعیین شده آغاز و در چند مرحله تطبیق گردید که شامل اعمار ساختار اساسی، پوشش سقف، رنگ‌آمیزی، تهویه، و سایر امور ضروری ساختمانی بوده است.

امروز با تکمیل کار رنگمالی تمامی بخش‌های پروژه ۹۵٪ تکمیل شده و آماده بهره‌برداری می‌باشد.

رهبری شاروالی شهر سرپل تطبیق مؤفقانه این پروژه را گامی مهم در راستای اصلاحات و بهبود امور اداری دانسته و آنرا بخشی از برنامه‌های توسعه‌ای خویش جهت ارتقای ظرفیت کاری و معیاری‌سازی تأسیسات شهری می‌دانند.

## غزني ښار کې د ۲۴ میلیونه افغانیو په ارزښت درې پروژې پرانیستل شوې




د غزني ښاروالۍ ریاست د ملګرو ملتونو اړوند دفتر په مالي مرسته د ښار څلورمې پنځمې او شپږمې ناحیې په مربوطاتو کې درې پراختیایي پروژې پرانیستل شوې. چې ټول ارزښت یې ۲۴ میلیونه افغانۍ دی.

د پرانیستې په مراسمو کې د غزني ښاروال مولوي محمدنبي "حمزه" د یاد ریاست امرینو وکیلانو او قومي مشرانو ګډون کړی و.

یادې پروژې د اربابا صاحب د دربیمي برخې د سرک رغونه د سکورت بازار کې د استنادي دېوال جوړول او په قلعه شهاده کې د سرک رغونې چارې دي.

د غزني ښاروال مولوي محمد نبی حمزه وویل ښاروالۍ د خپلو امکاناتو ترڅنګ له نړیوالو مرستندویو ادارو سره په همغږۍ هڅه کوي چې ښاري خدمات پراخ کړي.

دا پروژې به نه یوازې د خلکو د تګ راتګ ستونزې هوارې کړي بلکې د ښاري نظم اقتصادي ودې او ښاري ښکلا لامل به هم شي. له ښاریانو مو هیله دا ده چې د دغو پروژو په ساتنه کې زموږ همکار پاتې شي.

د سکتورې او مسلکي چارو امر حاجي فضل احمد مدني هم په دې مناسبت وویل چې یادې پروژې به د ښاریانو د تګ راتګ اسانتیاوو ترڅنګ د سیمو ښکلا، استوګنې او اقتصادي فعالیتونو ته مثبت بدلون ورکړي. نوموړي له خلکو وغوښتل چې د پروژو د ساتنې او همکارۍ په برخه کې له ښاروالۍ سره همکار پاتې شي.

**به اساس هدایت الحاج مجاور طاهری، شاروال ولسوالی بگرام ولایت پروان، حشر عمومی راه اندازی گردید و در آن تمام زباله های ناحیه اول شاروالی ولسوالی بگرام پاک‌کاری و انتقال داده شد.**




## جلسه ربعوار کمیته مبارزه با فساد اداری شاروالی میمنه برگزار شد




این جلسه تحت ریاست الحاج مفتی گل احمد مبشر، شاروال میمنه با اشتراک مدیران عمومی تخنیکی و مسلکی، حکومتداری شهری، نظارت و ارزیابی و مدیران مالی و محاسبه، دعوت و ارشاد، ناحیه اول، تفتیش وتنظیم امور مارکیت ها در تالار جلسات این اداره دایر گردید.

در جلسه فوق روند کاری و اجراآت بخش های مختلف مورد ارزیابی قرار گرفت و راه کارهای بهتر جهت بهبود امور کاری توسط عضای جلسه پیشنهاد و بر اجرایی سازی آن تأکید صورت گرفت.

## جلال اباد ښاروالۍ د عوایدو امر په مشرۍ د تحصیلي کارکوونکو سره ناسته ترسره شوه




د جلال اباد ښاروالۍ د عوایدو امر اکبر علي بریال په مشرۍ د تحصیلي مدیریت اړوند کارکوونکو سره د ښاروالۍ د ملکیتونو، دولتي ادارو، تجارتي او ملکیتونو او نورو اړوندو برخو د تېرو کلنو د باقیاتو د راټولولو په موخه ناسته ترسره کړه.

د عوایدو امر اکبر علي بریال په ټولو برخو کې د باقیاتو په راټولولو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې څومره مو د عوایدو راټولولو برخه پیاوړې وي د انکشافي او خدماتي چارو لمنه به مو پراخه وي.

د عوایدو مدیر شفیع الله مصور د چارو د همغږۍ، عوایدو لوړوالي او یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو په تړاو بحث وکړ.

د تحصیلي مدیریت کارکونکو د ورځنیو چارو د چټکتیا ډاډ ورکړ.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښاریانو د کورونو، تجارتي ملکیتونو او نورو اصولي لارو څخه ترلاسه شوي عواید بېرته په ښار کې په پراختیایي او انکشافي پروژو او خدماتي برخو مصرف کړي.

## روند انتقال چوب‌فروشی‌ها و ماشین‌های آره یکه‌ولنگ به مکان جدید آغاز شد




روند انتقال چوب‌فروشی‌ها و ماشین‌های آره به موقعیت جدید امروز با حضور شاروال یکه‌ولنگ ولایت بامیان آغاز گردید که این اقدام در نتیجه تلاش پیگیر اداره شاروالی با حمایت و همکاری مقام ولسوالی عملی شد.

این انتقال بر بنیاد تفاهم‌نامه سه‌جانبه میان اداره شاروالی، مالکین ماشین‌های آره و نماینده مردم محل آخندان قبلا صورت گرفته بود. این پروسه در راستای تأمین نظم شهری، جلوگیری از خطرات احتمالی به‌ویژه حریق در بازار، افزایش عواید شاروالی و بهبود چهره شهری راه‌اندازی گردیده است.

شاروالی یکه‌ولنگ از همکاری مردم، کسبه‌کاران و نهادهای مسئوول اظهار قدردانی نموده و این گام را نقطه عطفی در اجرای مؤفق پلان شهری می‌داند.

## کار طبقه اساسی یا بیس کورس پنج سرک در شهر مزارشریف آغاز گردید




کار طبقه اساسی یا بیس کورس پنج سرک در کارته صلح ناحیه هفتم شهر مزارشریف از بودجه انکشافی شاروالی مزارشریف آغاز گردید که در آینده های نزدیک به قیرریزی آماده خواهد شد.

سرک های مذکور دارای ۱۵۰۰ متر طول و ۱۲، ٦ و ۸ متر عرض می‌باشد که شامل ساخت آبروهای کناری، نصب ۹۰ پایه تنویری، اعمار ٦ پلچک، خط اندازی و سایر جزئیات یک سرک معیاری می‌باشد.

همچنان کار ساخت آبروها، کندن کاری، خاک برداری، نصب پایه های تنویر، سب گریت و سب بیس تکمیل و کار بیس کورس آن جریان دارد که در روزهای آینده کار سپری یا پرایم کوت و قیرریزی آن نیز آغاز خواهد شد.

قابل یادآوری است که با بهره برداری سرک های مذکور مشکلات ساکنان کارته صلح حل و سهولت های متعددی برای ایشان فراهم خواهد شد.

## کار ساخت و ساز فواره آب در وسط چهارراهی کمال نبی زاده ۷۰٪ فیصد به پیش رفته است




کار ساخت و ساز فواره آب در وسط چهارراهی کمال نبی زاده به هدف زیبائی و تغییر مثبت در چهره و سیمای شهر مزارشریف ۷۰٪ فیصد به پیش رفته است و کار باقی مانده آن به سرعت و کیفیت خوب جریان دارد.

کار بازسازی چهارراهی شامل نصب کتارهای فلزی، عریض سازی سرک های اطراف چهارراهی، سنگ کاری، ساخت فواره آب، غرس گل‌های زینتی، سرسبزی، نصب چراغ‌های رنگارنگ و رنگمالی می‌باشد و قرار است کار آن طی مدت دو ماه کاری تکمیل و به بهره برداری سپرده شود.

همچنان کار عریض سازی سرک های اطراف چهارراهی تکمیل و ساخت فواره آب، سنگ کاری پیاده روها و ساخت کتاره های فلزی پیشرفت خوبی فزیکی دارد.

با تکمیل پروژه بازسازی چهارراهی کمال نبی زاده زیبائی و نمائی خاص در ساحه مذکور ایجاد خواهد گردید.

## د زرغونو سیمو ساتل او پراختیا د کندز ښاروالۍ لومړیتوب دی




د زرغونو سیمو د ساتنې او ودې په موخه، د کندز ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ برخې زیارکښه کارکوونکو لخوا د کندز ښار اړوند سیمو سربیره د ابدان دښته کې شته ونې او بوټي خروب کړل.

همداراز، د کندز ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ برخې هڅانده کارکوونکو له لوري د کندز ښار اړوند په بېلابېلو برخو کې د پارکونو او ګلدانونو د شنو فضاوو او ونو د خړوبولو چارې هم په منظم شکل سره جریان لري.

یاد زیارکښ پرسونل له ټولو درنو ښاریانو هیله کوي؛ ترڅو د ښار په زرغونتیا، سمسورتیا او ونو په ساتنه کې خپل مسؤولیت ترسره کړي.


## ترینکوټ ښار کې د غوښو پلورنکو څخه د ښاري نظافت او حفظ الصحي مراعتولو په موخه نظارت ترسره شو




د ترینکوټ ښاروالۍ او چاپیریال ساتنې ریاست په ګډه همکارۍ د ښار د یو شمېر قصابیو څخه د حفظ الصحې او ښاري نظافت مراعتولو په موخه نظارت ترسره شو.

د نظارت پر مهال جوړې شوې کمېټې لخوا د قصابیو پلورنکو ته د ښاري نظافت مراعتولو په موخه سپارښتنه وشوه ترڅو خپل کثافات د ښاروالۍ لخوا ښار کې ایښودل شویو کثافات دانیو ته انتقال کړي، د کانګو مریضۍ د خپرېدو د مخنیوي په موخه د غوښو د پېرلو پر وخت د جالیو استعمال، د غوښو ټوټه کولو کنده باندې د فلزي پوښونو جوړول او د قصابیو پر وخت د مشخصو جامو د استعمال او حفظ الصحې مراعتولو په موخه جدي غوښتنه لازمي توصیو او سپارښتنې وشوې.

## مهترلام ښار کې د سړکونو د پاکوالي دوام؛ د قومانداني درې لارې او دارالمعلمین پر مسیر د سړکونو خاکروپ چارې ترسره شوې




د مهترلام ښاروالۍ د ښار د پاک چاپیریال او ښاري نظم د تامین په موخه، د دویمې ناحیې د تنظیف زیارکښو کارکوونکو له لوري د قوماندانۍ درې لارې او د دارالمعلمین پر مسیر د سړکونو جارو کولو (خاکروپ) چارې ترسره شوې.

په دې فعالیت کې د سړک غاړې او پیاده‌رو سیمې له دوړو، خځلو او اضافي موادو پاکې شوې، چې له امله یې سیمې ته پاکه او منظمه بڼه ورکړل شوه. دا اقدام نه یوازې د ښاري ښکلا لپاره مهم دی، بلکې د روغتیایي ستونزو د مخنیوي لپاره هم ارزښت لري.

د مهترلام ښاروالۍ مشرتابه له خپلو زیارکښو کارکوونکو مننه کوي او له ټولو ښاریانو غواړي چې د ښار پاک ساتلو لپاره خپله مدني ونډه ادا کړي او د کثافاتو له بې‌ځایه غورځولو څخه ډډه وکړي.

## شاروال مزارشریف از پروژه تنویر و تزئین جاده های عمومی و فرعی شهر مزارشریف نظارت نمود







مزار شریف ۳۳

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف به هدف بهبود روشنایی شبانه، افزایش زیبایی شهر و تامین بهتر امنیت در شب، با حضورداشت مسئول قراردادی از پروژه تنویر و تزئین جاده های عمومی و فرعی شهر مزارشریف بررسی و نظارت نمود که در همین حال آقای آریا نیز حضور داشت.

شاروال مزارشریف برای مسئول قراردادی پروژه تنویر و تزئین شهر مزارشریف تأکید نمود که از جاده های عمومی و فرعی شهر همیشه بررسی و مراقبت نماید تا از خراب شدن چراغ های کنار جاده جلوگیری و برای شهروندان سهولت های متعدد ایجاد شود.

همچنان آقای همت جهت تنویر و تزئین حلقه ها و نماد به هدف زیبایی شهر مزارشریف برای مسئول قراردادی هدایات لازم سپرد.

محمود آریا، مسئول قراردادی تنویر و تزئین شهر مزارشریف برای شاروال اطمینان سپرد که مسئولیت های سپرده شده را در وقت معین و به شکل اساسی تکمیل خواهد کرد.

## ساخت و نصب نماد های زیبایی در گلدان های اطراف چهارراهی شاروالی مزارشریف تکمیل گردید



مزار شریف ۳۴

ساخت و نصب نمادهای زیبایی (مهتاب شکل) در گلدان های اطراف چهارراهی شاروالی مزارشریف توسط شاروالی مزارشریف تکمیل گردید.

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف گفت: شاروالی مزارشریف طی پلان منظم و سنجیده شده در نظر دارد که نمای شهر مزارشریف را با ساخت و نصب نمادها و حلقه های تزئینی تغییر مثبت دهد.

همچنان آقای همت وعده سپرد که در آینده نیز پروژه های مشابه فرهنگی و زیباسازی را برای رشد ظاهری شهر ادامه خواهد داد.

## رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از یک تعداد پروژه های انکشافی در شهر نظارت نمود



مزار شریف ۳۵

استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی با تیم انجنیری شاروالی مزارشریف از جریان پروژه کانال سرک باغ قاضی واقع در ناحیه اول، سرک کارته ظهیرالدین فارابی واقع در ناحیه چهارم، پل کانکریتی سیلبر در پارک های صنعتی واقع در ناحیه ششم، اعمار چهارراهی کفایت و کار اسفالت سرک کفایت الی سرک حلقوی مربوطات نواحی چهارم و نهم نظارت نمودند و همچنان کیفیت کاری آنرا بررسی نمود و برای مسؤولین شرکت های قراردادی و انجنیران مربوطه هدایات لازم سپردند.

آقای مایار، در جریان نظارت برای شرکت های قراردادی پروژه ها در قسمت معیاری بودن و تکمیل کردن آن به اسرع وقت رهنمودهای لازم ارائه نمود و تاکید کرد که در قسمت ساخت آن از مواد ساختمانی با کیفیت استفاده نمایند.

مسؤولین شرکت های قراردادی نیز از معیارات به کار برده شده در این پروژه ها اطمینان دادند و در رابطه به کیفیت کاری پروژه ها و سرعت کار آن اطمینان دادند و اظهار نمودند تا کارهای خود را مطابق دستور ریاست شاروالی مزارشریف به پیش ببرند.

باشندگان محل نیز از تطبیق پروژه ها خوشحال اند و در این زمینه از ریاست شاروالی مزارشریف ابراز خرسندی می‌نمایند.

## کار ساخت پیاده روها و گلدان های مقابل مارکیت تجارتی سینافر در شهر مزارشریف جریان دارد



مزار شریف ۳۶

کارساخت پیاده روها و گلدان های مقابل مارکیت تجارتی سینافر که شروع از شفاخانه مادر تا لیسه افغان-ترک پسرانه مربوط ناحیه سوم شهر می‌شود توسط شاروال مزارشریف به سرعت و کیفیت کاری خوب جریان دارد.

در ساخت پیاده روها و گلدان‌ها، نصب سنگ ها و جدول ها، ساخت و نصب کتاره های فلزی، سرسبزی و غرس گل های زینتی شامل است که کارهای آن در مدت ۳۰ روز تکمیل خواهد شد.

با ساخت پیاده روها و گلدان ها، زیبایی خاصی در این ساحه ایجاد خواهد شد و گام مهمی در جهت گسترش سرسبزی به شمار می‌رود.

## جلسه‌ای کمیسیون نظم و توسعه شهری قلعه نو، تحت ریاست حافظ محمد امین جان عمری والی ولایت بادغیس و با اشتراک اعضای کمیسیون برگزار گردید




بادغیس ۳۷

این جلسه در نخست با تلاوت قرآنکریم آغاز گردید و پس از آن حافظ محمد امین جان عمری والی ولایت بادغیس صحبت های مقدماتی را ایراد کرد.

ملا راز محمد ذاکر شاروال قلعه نو تلاش‌ها، فعالیت‌ها، دستاوردها، مشکلات و خواسته‌های کمیسیون نظم و توسعه شهری را با والی شریک ساخت و در بخش نظم و توسعه شهری، اطمینان داد که تلاش‌های جدی و دوامدار در این عرصه جریان دارد تا نظم شهری به‌گونه عالی مدیریت گردد.

در پایان، اشتراک‌کنندگان نظریات خود را تبادله کردند و جلسه با دعای خیر خاتمه یافت.

**مدیریت عمومی حکومتداری شهری شاروالی میمنه در ادامه فعالیت‌های آگاهی‌دهی خویش پیرامون مزایای فرهنگ شهرنشینی و مکلفیت های شهروندی، برای متعلمین لیسه عالی تجربوی عربخانه برنامه آگاهی‌دهی برگزار کرد. روند آگاهی‌دهی در مکاتب و مدارس که کمیته های شاروالی در آنها ایجاد شده است ادامه دارد.**

فاریاب ۳۸

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## سرک شهرک گنبدک بامیان کندنکاری و هموارکاری شد




شــاروالی بامیان به منظور فراهم سازی تسهیلات رفت و آمد برای شهروندان ســاکن شرق شهرک گنبدک، سرک شهرک متذکــره را با وســایط و ماشــینری شــاروالی کندنکاری و هموارکاری کرد.

با تطبیق پروژه متذکره راه عبور و مرور باشــندگان شــهرک هموار گردید و زمینه انکشاف و آبادانی در آن موقعیت فراهم خواهند شد.

شاروالی بامیان متعهد به عرضه خدمات با کیفیت و مؤثر در شهر بامیان است و از تمام شهروندان تقاضا دارد که با ادای مسؤولیت پذیری شهروندی شاروالی را در امر آبادانی، عرضه خدمات بهتر و انکشاف سالم همکاری نمایند.

## جلسه تخنیکی شاروالی تالقان برگزار گردید




جلســه تخنیکی شــاروالی تالقــان تحت ریاســت مولوی عبدالغفور سیرت، شــاروال تالقان با حضور کارمندان بخش های مربوطه برگزار شد.

در این نشست در مورد ویزه ساختمان‌ها، تکس نقشه، ترتیب پلان، پاک‌کاری و زیباســازی شــهر، تنظیم سبزه و گل‌های گلدان‌های وسط سرک عمومی شهر و چهارراهی گولای باغ، تنظیم دست‌فروشــان ســیار و تسریع در روند فعالیت‌های اداری بحث و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

شاروال تالقان بر تطبیق بهتر پلان‌های شهری و ارائه خدمات مؤثر به شهروندان تأکید ورزید.

## ګرشک ولسوالۍ کې یو شمیر امارتي ځمکې د غصب څخه پاکې شوې




د ښــاروال صاحب د هدایت په اساس د تخنیکي او مسلکي مدیریت او د دربیمې ناحیې مدیریت په مرســته د طالبانو د زوړ بازار د دربیم بلاک په حدودو کې یو شمیر امارتي ځمکې چې په خود سره توګه د عامو خلکو لخوا غصب شــوې وې او تصرفات پرې شوي و د یادو مدیریتونو په مرسته تخلیه شوې.

ګرشک ښاروالۍ همیشه هڅه کوي ترڅو امارتي ځمکې چې د خلکو لخوا غصب شوې ژر تر ژره له غصب کوونکو څخه خلاصې او اشخاص یې اړوند ارګانونو ته معرفي کړي.

## ګرشــک ښــاروالۍ له لــوري د قصابانــو او حمامونو له فعالیتونو څخه د لایحې مطابق نظارت ترسره شــو




د ګرشک ښــاروالۍ د مارکېټونو تنظیم مدیریت له لوري، د ښــاروال صاحب د هدایت سره سم ښــار کې د جوړې شوې لایحې مطابق د قصابانو له فعالیتونو څخه نظارت ترسره شو. په دې نظارت کې ځرګنده شــوه چې زیــات قصابان خپل فعالیتونه د ټاکل شوې لایحې او اصولو سره سم پر مخ وړي.

همداراز د مســؤولینو له لوري د ښار له یو شمېر حمامونو څخه هم نظارت ترسره شــو، چې پکې د نظافت مراعت، د صحــت کارټ درلــودل او د فعالیت جــواز د اعتبار موده وکتل شول.

یادونه: د ګرشک ښاروالۍ د مارکېټونو تنظیم مدیریت د خپل منظم پلان له مخې د لایحې مطابق د مختلفو کسبکارانو له فعالیتونو څخه نظارت په دوامداره توګه ترسره کوي.

**د هرات ښاروالۍ پرمختیایي بودجې څخه د ۱،۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د رباط کابلي ها ګذر د ځو کوڅو د کانال او کانکریټ جوړولو پروژې چارې افتتاح او پیل شوې.**

هرات ۴۳

**هرات ښار اوومه ناحیه ۱۱ ګذر کې د کانال جوړولو او جادې کانکریټ کولو پروژه د ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت افتتاح او چارې یې پیل شوې**

هرات ۴۴

## د تورخــم ښــاروالۍ له خــوا د دواړو ســړکونو ترمنځ د ګلدانونو خړوبولو چارې ترسره شوې




د تورخم ښــاروالۍ د سرسبزۍ مدیریت له لوري د چاپېریال ښایسته والي او ښاري ښکلا د دوام په موخه د ښاري سړکونو، پارکونو او بازار اړونده سیمو کې د بوټو او نیالګیو خړوبولو پراخ فعالیت ترسره شو.

دا خړوبونــه د تورخم بــازار د دواړو ســړکونو ترمنځ په موجودو ګلدانونو او همداراز د پارک په برخه کې ترسره شول. یاد فعالیت د تورخم ښاروالۍ په مټ، په پوره منظم ډول ترسره شو.

د تورخم ښاروالۍ د سرسبزۍ مدیریت مسؤولینو ځرګنده کړه چې دا پروســه نه یوازې د ښار د ښکلا او پاکوالي لپاره مهمه ده، بلکــې د چاپېریالي وضعیت د ښــه والي او د تودوخې د کمښــت لپاره هم مؤثره ثابتیږي. هغوی زیاته کړه چې د شنو سیمو خړوبونه به د اوونۍ په اوږدو کې هره ورځ په منظم ډول ترسره کیږي، ترڅو نیالګي او شنه بوټي سالم پاتې شي.

## ګردیز ښــار کې د غږیزې ککړتیــا کمیدو په موخه اقدام وشو




ګردیز ښــاروال حبیب الله اخندزاده حامــد د هدایت په اساس، په ښــار کې د غږیزې ککړتیا د کنټرول، کراچیو د تنظیم او ښاري نظم په موخه؛ د ښار په کچه اقدامات پیل کړي او دغه چاره هره ورځ د ښاري انظباط مدیریت تر چتر لاندې ښــاري نظم مؤظفو کســانو لخوا په دوامداره توګه ترسره کیږي.

ښــار کې د غږیزې ککړتیا کمښــت او له منځه وړلو لپاره ګردیز ښــاروالۍ ښاري نظم مؤظفو کسانو، تېره ورځ هم له یو شمیر کراچیو او لاسي توکو پلورنکو لوډسپیکرونه راټول او نورو هغو ته سپارښــتنه وشــوه څو هر څومره ژر له دې سرغړونې لاس واخلي.

غږیــزه ککړتیا د ژونــد چاپیریال په اړه یو خنــډ او د خلکو ذهني نا ارامتیا ســبب ګرځي، چې ګردیز ښــاروالۍ به له دې وروســته دغه چاره دوامداره څاري او د سرغړونکو مخه به نیسي.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه


## ګردیز ښار غزني لین هټیو کې له بې کیفیته او تاریخ تیرو موادو څارنه وشوه




پکتیا ۴۷

ګردیز ښـاروالۍ صنعت او سـوداګرۍ ریاست په مشرۍ د ګردیز ښـاروالۍ مارکیټونو تنظیم مدیریـت او ولایتي ادارو ټاکلو مسؤلینو د خپلو څارنو پر دوام دا ځل، ګردیز ښار غزني لیـن هټیو څخه د خوراکي او غیرخوراکـي تاریخ تیرو او بې کیفیته توکو له کیفیـت او مصرف نیټي څخه څارنه وکړه. د دې پلټنو په لـړ کې د (۲۰) قلمه بېلابېـل خوراکي او غیر خوراکي توکي؛ لکه: شـامپو، کریم، بیسکوټ، ویښتانو رنګ، صابون، ماشـومانو پوډر، تېل، غیر الکـولي مشروبات، چې مصرف موده یې پای ته رسیدلې وه، راټول شول.

دغه پروسه د ګډې کمیټې لخوا د اونۍ په بېلابېلو ورځو کې په دوامداره توګه پر مخ وړل کیږي، چې ورسره د ګڼو ناقانونه کړنو مخه نیول شوې.

## خوست ښار کې د هوټلونو او هټیو څارنه او د ښاري نظم په برخه کې اجراات ترسره شول



خوست ۴۸

د خوسـت ښاروالۍ مارکېټونو چارو تنظیم مدیریت په دویمه ناحیه کې د ټولو هوټلونو د صفايي او د خوړو د کیفیت په اړه جدي نظارت ترسره شو او مسؤلینو ته یې لازمي سپارښتنې وشوې.

همدارنګه، د ښـار پـه مختلفو هټیو کـې د تاریخ تېر او بې کیفیته توکو څار وشو او اړوند برخه کې یو شمېر توکي راټول او هټیوالو ته یې د عامه پوهاوي لارښووني وشوې.

ترڅنګ یې ښاري نظم کمیسـیون د تل په شان ښار کې د تګ لارې د خلاصون پـه موخه عملیات ترسره کړل، تر څو د مارکېټونـو دننه د خلکو د تګ راتګ او د نظم وضعیت ښـه نورمال وي.

د یادونې ده، چې یاد اجراات د ښـار په سوداګریزو سیمو کې د کیفیت د لوړولو او ښاري نظم د ټینګښت لپاره ترسره کیږي.

**کندهار ښاروالۍ د خپلو پراخو انکشافي فعالیتونو په لړ کې دا ځل د پنځمې ناحیې د دربیم ګذر اړوند د حاجي عزیز په سیمه کې د یوه فرعي سړک د اساسي رغولو چارې پیل کړې دي.**

یاد سړک شاوخوا ۳۲۰ متره اوږدوالی او ۸ متره پلنوالي لري، تر دې دمه یې ۵۰ سـلنه رغنیـزې چارې ترسره شوي دي او پاتې کارونه به یې د ۳ میاشتو په موده کې بشپړ شي.

د همدې سړک د رغولو ترڅنګ د ۹۰ مترو په اوږدوالي سره د چـرې جوړول هم په اساسـي ډول په پلان کې شامل دي.

په دې انکشـافي پروژه کې هره ورځ ۷۱ کسانو ته د کار کولو زمینه برابره شوې ده.

د یاد سړک په جوړولو سره د سیمې خلکو زیاته خوښي ښودلې او د کندهار ښاروالۍ له دې مهم اقدام څخه یې ځانګړې منننه وکړه.

کندهار ۴۹

## کمیسیون نظم، توسعه و انسجام شهری شاروالی کندز پلان عملیاتی نظم شـهری را جدا تطبیق می نماید




کندز ۵۰

کمیسیون نظم، توسعه و انسجام شهری در شاروالی کندز به بی نظمی های شـهری در جاده های عمومی این شهر رسـیدگی نموده موانع سرک ها و پیاده رو ها را پاکسازی کرده است.

اعضای این کمیسیون طی این عملیات کراچی های سیار دستفروشـان و غرفه های غیر قانی که باعث بندش سرک ها و پیاده روها گردیده بود را پاکسـازی نموده و به تخلف اصناف و دوکانداران نیز رسیدگی صورت گرفته است.

از جانـب دیگـر این کمیسـیون بـه فعالیـت کنندگان دسـتفروش و دوکانـداران توصیه نمودند تـا از اصول و مقررات شـهری پیـروی کرده باعث ایجاد بـی نظمی در ساحات شهری نگردند.

**کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار ولایت پروان زباله های نواحی مختلف شهر را پاک‌کاری و انتقال دادند و همچنان درختان و گل های نواحی شهر چاریکار را آبیاری کردند.**

پروان ۵۱

## کندهـار ښـار پـه یوولسـمه ناحیه کـې لـه بیلابیلو خوړنځایونو څخه نظارت ترسره شو



کندهار ۵۲

د کندهار ښـاروالۍ اړونـد د مارکیټونو تنظیـم مدیریت له لوري، د ښار په یوولسـمه ناحیه کې له بیلابیلو خوړنځایونو څخه د ترتیب شوي لایحې مطابق نظارتي چارې ترسره شوې.

په دې نظارتي بهیر کې مسؤلینو د خوړنځایونو مسؤلینو ته سپارښـتنه وکړه چې خپل فعالیتونه د جوړې شـوې لایحې مطابق ترسره کړي او تینګار وشو، چې د خوړنځایونو اشپزان بایـد د صحت کارټ ولري، کارکوونکـي باید ځانګړې لباس واغوندي او د نظافت اصول په جدي ډول مراعت کړي.

همدارنګه، مسؤلینو د خوړنځایونو د غذایي موادو پر کیفیت، تاریخ او د فعالیت پر جوازونو هم نظارت وکړي.

په پای کې ټولو خوړنځایونو مسـؤولینو ته سپارښتنه وشوه، چې د یکشـنبې په ورځ له وطني سبزیجاتو څخه استفاده وکـړي؛ ترڅو د غذایـي رژیم مهال وېش ته پـوره پاملرنه شوې وي.

## برنامه معلوماتی و تشریحی در پیوند به ساده‌سازی امور کاری در شاروالی چاریکار برگزار گردید




پروان ۵۳

ریاسـت پروسه ساده‌سازی اصلاحات اداری و خدمات ملکی به هـمکاری ریاسـت عمومـی اداره امور امـارت اسلامی افغانسـتان برنامه معلوماتـی و تشریحی یـکروزه را برای کارمندان شاروالی چاریکار تدویر نمود.

این برنامه با حضور بریالی ابدالی، رئیس پروسه ساده‌سازی اصلاحـات اداری، حافظ راز محمد یاسر شـاروال چاریکار، سـید نصرت‌الله سـادات، آمر تحلیل و تجزیه، و نصیراحمد مجیدی کارشناس بخش تحلیل و تجزیه برگزار گردید.

در این برنامه کارمندان بخش‌های تخنیکی و مسلکی، عواید، نواحی و حکومت‌داری شـهری شـاروالی چاریکار اشتراک ورزیدند.

کارشناسـان اصلاحات اداری و خدمـات ملکی فورمه‌جات مربوط به خدمات مراجعین که شـامل بخش های حکومت داری، خدمات تخنیکی و مسـلکی و عواید میشود را به‌گونه مفصل برای کارمندان توضیح دادند و در پیوند به چالش‌ها و مشکلات موجود، رهنمایی‌های لازم ارائه گردید.